# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



**ی. و. ستالین**
**ژباړه: فرهاد ویاړ**
**۰۷/۰۹/۱۰**


# د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه

(نهمه او وروستی برخه)

د. **د تولید دریمه ځانګړنه** دا ده چي د نوی تولید کوونکو ځواکونو او د هغي سره د متناسبه تولیدي اړیکو پیداینت، د مخکني رژیم څخه بهر یا د هغي له انحلال وروسته نه تر سره کیږي، بلکي په خپله او بې له مخکني کړني څخه چي د انساني شعور له مخي پلی شوي وي د مخکني رژیم په منځ کي رامنځته کیږي؛ او د بشري شعور او ارادې پرته د هغه مستقل پیداینت دوه لاملونه لري:

لومړی دا چي انسانان د تولید په دې ډول یا هغه ډول طریقي په اختیارولو کي خپلواکه نه دي، ځکه کله چي هر نوی کهول(نسل) رامنځته کیږي د هغه چمتو شوي تولیدي ځواکونو او تولیدي اړیکو سره مخامخ کیږي چي د مخکني انسانانو د کار پایله ده او له همدی امله په لومړیو کي باید د تولید په بهیر کي ټول هغه شیان چي برابر او چمتو دي او هغوی ورسره مخامخ کیږي، ومني اود مادي نعمتونو د تولید د امکان د حصول لپاره باید له هغي سره ځانونه متناسب کړي.

دویم دا چي انسانان د تولید د دې یا هغي وسیلي، د تولید کوونکو ځواکونو د دې یا هغي عنصر د اصلاح پر مهال، د دې اصلاح څخه د لاسته راغلي **ټولنیزې** پایلي کیفیت درک کولای نشي او په اړه یې فکر نکوي او له پوهیدو څخه یې عاجز دي. د هغوی فکر یوازې د هغوی ورځني فایدې ته متوجې دی، فکر یې دا دی چي خپل کار لا آسانه او ژر او محسوسه ګټه تر لاسه کړي.

کله چي د لومړني اشتراکي ټولني یو شمیر کسانو په تدریج او ورو ورو د ډبرینو وسایلو او افزارو څخه لاس په سر کیدل او اوسپنزه افزار او وسایلو ته یي مخه کوله، ښکاره ده چي نه پوهیدل او فکر یي هم نه رسیده چي دا نوی کار به څه ټولنیزې پایلي رامنځته کړي، هغوی دې ته متوجه نه وو او خبر یې نه درلود چي اوسپني افزارو او آلاتو ته لیږدیدل په تولید کي د انقلاب معنا لري چي بالاخره د بردګي رژیم د رامنځته کیدو لامل کیږي. هغوی یوازې غوښتل خپل کار

لا آسانه او ژر او محسوسه ګټه تر لاسه کړي. کومي کړني چي هغوی د شعور له مخي تر سره کولی د همدې ورځني شخصي ګټو په کوچني دايره کي محدودې وی.

کله چي د فئوډالي رژيم په دوره کي ، د اروپا ځواني بورژوازي د کسبګرو کوچنيو کارځايونو په کتار کي د لويو مانوفاکتوري کارخانو په جوړولو پيل وکړ او په دې ډول د ټولني توليد کوونکي ځواکونه يې مخي ته بيول، ښکاره ده چي نه پوهيده او فکر ته يې هم نه رسيده چي دا نوی کار به څه **ټولنيزې** پايلي ولري. بورژوازي نه پوهيده چي دا «کوچنی» بدعت به په ټولنيزو ځواکونو کي داسي نوې ډلبندی رامنځته کړي چي د هغه پاچا او اشرافو او نجيبانو د واکمنتيا په وړاندې به د انقلاب لامل شي چي بورژوازی ته يې رحم او الطاف نژدی او منزلت يې درلود او د بورژوازی ډېرو مخورو استازو هيله درلوده چي د دې نجيبانو او اشرفو له ډلي څخه ووسي. بورژوازي يوازې غوښتل توکي لا ارزانه توليد کړي او د آسيا او امريکا بازارونو ته، چي نوي کشف شوي وو، لا زيات توکي صادر او زياته ګټه تر لاسه کړي. کومه کړنه چي بورژوازي د شعور له مخي تر سره کوله د همدې ورځني عملياتو د محدودې دايرې څخه بهر نه وه.

کله چي روسي پانګوالو د بهرنيو پانګوالو سره، بی له دې چي د تزاري اصولو سره څه کار ولري، معاصره ماشيني صنايع يې په روسيه کي په جديت سره پلي کوله او دهقانان يې د ملکانو قرباني کول؛ ښکاره خبره ده چي د توليد کوونکو ځواکونو د پام وړ ودې د **ټولنيزو** پايلو له څرنګوالي څخه بی خبره وو او په دې اړه يې فکر نه کاوه او دې ته يې پام نه درلود چي د ټولني په توليدي ځواکونو کي دا جدي خوځښت، په ټولنيزو ځواکونو کي به داسي نوی ډلبندئ رامنځته کړي چي په پايله کي به پرولتاريا وکړای شي کليوال له ځان سره متحد او بريالی سوسياليستي انقلاب به تر سره کړي، ياد شويو پانګوالو يوازې غوښتل صنعتي توليد ته بی اندازه پراختيا ورکړي، کورنی لوی بازار په خپل اختيار کي ونيسي او ځان ته يې منحصر کړي او د ملي اقتصاد څخه لا زياته ګټه تر لاسه کړي. کومه کړنه چي دې پانګوالو د شعور له مخي تر سره کوله د هغوی د ورځني عملي ګټو په کوچنی دايره کي محدوده وه.

له دې امله مارکس وايي:

«انسانان، د خپل ژوندانه په ټولنيز توليد کي (د مادي نعمتونو په توليد کي چي د ژوندانه اړتيا ده – ليکواله ډله) ضروري او معيني اړيکي ټينګوي چي د هغوی د ارادې په حيطه کي نه دي، يعني داسي توليدي اړيکو کي ورګډيږي چي د هغوی د مادي توليد کوونکو ځواکونو د پرمختګ او تکامل له معيني کچي سره متناسب دي.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی توک، مخ ۲۶۹ ، روسي چاپ).

خو بايد داسي تصور ونکړو چي د توليدي اړيکو تغيير او نويو توليدي اړيکو ته د پخوانيو اړيکو بدلون په نرمی او بی له کومي ترنګلتيا او تزلزل څخه تر سره کيږي. بر عکس، دا ډول بدلون معمولاً د انقلاب له لارې، د پخوانيو توليدي اړيکو په ړنګيدو او د هغي پر ځای د نويو توليدي اړيکو په ټينګولو تر سره کيږي. د توليد کوونکو ځواکونو پرمختګ او تکامل او په توليدي اړيکو کي بدلون تر يوې کچي پورې په خپله او د افرادو له ادارې پرته ادامه مومي. خو دا کار هغه وخت تر سره کيږي چي رامنځته شوي توليد کوونکي ځواکونه وخت پيدا کړي څو پرمختګ او تکامل وکړي او بلوغ ته ورسيږي. له هغي وروسته چي نوي توليدکوونکي ځواکونه د بلوغ کچي ته ورسيږي، موجوده اړيکي او هغه ته ځانګړې واکمني طبقي په «نه ليرې کيدونکي» خنډ بدليږي، چي له لارې څخه يې نشو ليرې کولی، مګر د نويو طبقو د ارادي فعاليت سره، د دې طبقو په جبري عمل، يعني په انقلاب سره. دلته دی چي د ټولنيزو اندونو، د نويو سياسي سازمانونو او نوی سياسي ځواک چي د پخوانی توليدي ځواک د ړنګولو لپاره کارول کيږي، **ستر رول** په ځلانده توګه راڅرګنديږي . نوی ټولنيز نظرونه د نويو توليد کوونکي ځواکونو او د پخوانيو توليدي اړيکو تر منځ د

اختلاف او منازعي او د ټولنې د نويو اقتصادي اړتياو پر بنسټ رامنځته کيږي. نوي نظرات ولسونه متشکل او بسيجوي، ولسونه د نوی سياسي پوځ په شان سره يو کيږي، نوې انقلابي واکمني جوړوي او هغه په توليدي اړيکو کې د زړو انتظاماتو د اجباري انتقال او د نوی انتظام د ټينګولو لپاره کاروي. انساني باشعوره فعاليت د پرمختګ د خپلسره بهير ځای نيسي، آرامه پراختيا او پرمختګ په اجباري بدلون اوړي او د تدريجي تکامل ځای انقلاب نيسي.

مارکس وايي:

«پرولتاريا د بورژوازی ضد مبارزه کې قطعاً د يوې طبقې په بڼه متحده کيږي ... او د انقلاب له لارې، ځان پر واکمنې طبقې بدلوي او د واکمنې طبقې په توګه پخواني توليدي اړيکې لغوه کوي.» («د کمونيست ګوند مانيفست»، ۲۵ مخ، روسي چاپ، ۱۹۳۸).

او بيا:

«پرولتاريا د خپلې سياسي واکمنتيا څخه به د دې لپاره کار واخلي چې په تدريجي ډول پانګه د بورژوازی له منګولو وباسي او د توليد ټول وسايل او افزار د دولت، يعنې د هغه پرولتاريا په لاس کې متمرکز کړي چې د يوې واکمنې طبقې په توګه متشکله شوی، او د امکان په اندازه او په ډير سرعت سره د توليد کوونکو ځواکونو اندازه زياته کړي.» (همغه کتاب، ۵۰ مخ).

«جبر، د قابلې په شان، هره زړه ټولنه چې د نوی ټولنه د زيږيدنې بطن دی، له خپل بار څخه خلاصوي.» (ک. مارکس «کاپيټال» لومړی ټوک، ۶۰۳ مخ، ۱۹۳۵ کال، روسي چاپ).

مارکس په هغه تاريخي «سريزه» کې چې په ۱۸۵۹ کال کې په خپل مشهور اثر «د سياسي اقتصاد پر علم نيوکه» کې ليکلې، د تاريخي ماترياليزم د ماهيت په اړه دا داهيانه فورمول بيانوي:

«انسانان د خپل ژوندانه په ټولنيز توليد کې معينې او ضروري اړيکې ټينګوي چې د هغوی د ارادې په حيطه کې نه دي، يعنې په داسې توليدي اړيکو کې ګډيږي چې د هغوی د مادي توليدکوونکو ځواکونو د پرمختګ او تکامل د يوې معينې درجې سره متناسبې دي. د دې توليدي اړيکو مجموعه د ټولنې اقتصادی سازمان او د هغې واقعي بنسټ جوړوي چې پر هغه باندې قضايي او سياسي روبناګانې رامنځته کيږي او د ټولنيز شعور بيلابيلې بڼې د دې بنسټ سره متناسبې دي. د مادي حيات د توليد ډول، د ټولنيزو او سياسي بهيرونو او جريانونو او په ټوليزه توګه د ژوندانه د معنوياتو شرط ګڼل کيږي. څه چې د انسانانو ژوندون ټاکي د هغوی پوهه او شعور نه دی، بر خلاف د هغوی ټولنيز ژوندون دی چې د هغوی شعور او پوهه معينوي. د ټولنې مادي توليدکوونکي ځواکونه د خپل تکامل په يوې ټاکلې پوړی کې د شته توليدي اړيکو او يا هم د مالکيت له اړيکې سره چې د توليدي اړيکو فقط قضايي اړخ دی او د دې اړيکو په منځ کې د پرمختګ او پراختيا په حال کې دی، سره تضاد پيدا کوي – دا اړيکې چې تر اوسه پورې د توليد کوونکو ځواکونو د تکامل يوه بڼه وه، اوس د هغوی خنډ کيږي ـ دلته دی چې د ټولنيز انقلاب وخت رارسيږي. اقتصادي بدلونونه، لږ او زيات، ورو يا چټک، د دې لويې ټولنې ټول مظاهره له منځه وړي. د دې ډول بدلونونو په ارزونې کې لازمي ده چې تل هغه بدلون چې د اقتصادي توليد په شرايطو کې رامنځته کيږي او د طبيعي علومو سره تطبيقيږي، له قضايي، سياسي، مذهبي، ابداعي يا فلسفي بدلونونو، په لنډه توګه د ايدئولوژيې ټولو شکلونو څخه چې انسانان دا اختلاف د هغې په دايره کې درک کوي او د هغې سره په جګړه کې دي، فرق کړو. څرنګه چې د يو انفرادي کس په اړه نشو کولای د هغه نظر پر اساس قضاوت وکړو چې هغه يې په خپله د ځان په هکله لري، همداسې نشو کولای د داسې تحولي دورې په اړه د هغې دورې د پوهې او شعور له مخې قضاوت وکړو. بر عکس، دغه شعور او پوهه بايد د مادي حيات او د ټولنيزو توليد کوونکو ځواکونو او د توليدي اړيکو تر منځ د شته اختلافاتو له مخې توضيح

کړو. هیڅ ټولنیز نظام له منځه نه ځي، مګر دا چې ټولو هغو تولید کوونکو ځواکونو ته چې میدان ورکول کیږي، تکامل ومومي، او هیڅ عالي او نوي تولیدي اړیکي نه رامنځته کیږي، مګر دا چې د هغوی د شتوالي مادي شرایط د زړې ټولنې په لمن کې د بشپړیدو تر کچې ونه رسیږي. له دې امله بشریت یوازې تل هغه چارې خپل مخې ته ږدي چې د حلولو وس یې ولري، ځکه که موضوع په لا ځیرتیا تر مطالعې لاندې ونیسو، و به ګورو چې دا ستونزې په خپله هغه وخت راڅرګندیږي چې د حل لپاره یې لازم مادي شرایط یا شته یا هم د زیږیدنې په حال کې وي.» (ک. مارکس، «د آثارو غورچاڼ» لومړی ټوک، ۲۷۰-۲۶۹ مخونه، روسي چاپ).

د ټولنیز حیات او د ټولنې له تاریخ سره د تطبیق په صورت کې دا د مارکسیستي ماتریالیزم بنه ده. دا د دیالکتیک او تاریخي ماتریالیزم اساسي ځانګړنې دي.

له دې نکاتو څخه لیدل کیږي چې لنین د رویزیونیستانو او د منحطو او مرتدو عناصرو د ناوړه مقاصدو په برابر کې د ګوند لپاره له څه یوې تیوریکي ګنجینې څخه دفاع وکړه او د لنین د ماتریالیزم او امپریو کریتیسیزم د کتاب لیکنه زمونږ د ګوند د ودې او تکامل لپاره څومره زیات اهمیت درلود.